دوکتور م ، ع ، روستار تره کی
د جنوری ۱۱ ، ۲۰۰۹ م کال

# په امریکا کی انتقالی پړاو

## او د افغانی جنگی اسیرانو برخه لیک

د جینوا دریم کانوانسیون ( ۱۹۴۹ ) او د هغه ضمیموی پروتوکول ( ۱۹۷۷) هغه جنګیالیوته چه د بهرنیو یرغلګرو قواوو په وړاندی جنګیږی په کافی اندازه حقوقی ملاتړ ور په برخه کړیدی :
کله چه نوموړی جګړه مار د دشمن لاس ته ولویږی، د جنګی اسیر په توګه ورسره معامله او د ګڼ شمیر حقونو نه برخمن کیږی. د هغی جملی څخه:
د ذمی برائت اصلی حالت ، د تعذیب نه مصونیت ، ځرګنده محاکمه ، د مدافع وکیل د ټاکلو حق او نور.
په یوه اشغال شوی هیواد کې د جنګی اسیرانو حقوق د اشغالګرو قواوو په واسطه تضمین کیږی ( د جینوا دریم کانوانسیون ۸۶ ، ۹۹ ، ۱۰۵ او ۱۰۶ حکم ).
امریکا په عمومی ډول سره جنګی اسیران « نا قانونه جګړه مار » ونومول او دوی د هغو حقونو نه چه نړیوالو قوانینو ورکړيدي بی برخی کړل. امریکا د ۷ کلونو په موده کی ندی منلی چه جنګی دلو ته د نړیوالو قوانینو په بنسټ باندی جنګی اسیرانو د حقونو څخه برخمن کړی.
په کندهار کی د جنګی اسیرانو شمیر معلوم ندی. خو په بګرام کی همدا اوس د ۶۰۰ تنو څخه زیات کسان د ۷ کلونو راهیسی بندیان دی، بی له دی چه په رسمی ډول په دوی کوم تور ولګول شی. په دوی باندی د شکنجی د اِعمال خبر مدیا او مطبوعاتو ته لار موندلی ده.
نړیوال سره صلیب د امریکا دریځ سره خلاف د افغانستان جګړه د « نړیوال وسله والی منازعی » په توګه وپیژاند او د امریکی د دولت نه یی د توقیف شوی کسانو په اړه ځینی امتیازات ( د هغی جملی څخه د دوی سره اړیکی برقرارول ) تر لاسه کړل.
ناتو هم خپله لار د امریکی څخه جلا کړه. ناتو په ۲۰۰۱ کال کی یو دستور العمل تنظیم کړ چه په هغه کی د افغانی جنګی اسیرانو سره د چلند ځرنګوالی په ګوته کوی: دستور العمل په جګړه کی توقیف شوی کسانو په ۲ کته ګوریو ویشی : وسله وال جنګی اسیران او پاتی کسان.
جنګی اسیران په اتوماتیکه توګه د جینوا د دریم کانوانسیون تر حقوقی پوښښ لاندی د ځانګړی حقونو څخه برخمن کیږی. پاتی کسان تر هغه وخته پوری د ناتو د قواوو له خوا ساتل کیږی چه د دوی حقوقی حالت روښانه شی.
د ناتو دریځ د تیوری په بنه پاتی شو : د ناتو قوا د خپل ۲۰۰۱ دستور العمل خلاف ټول جنګی اسیران بی د کوم مصونیتی ضمانت څخه افغان حکومت ته د دغه واقعیت په درک سره چه دوی شکنجه یا اعدام کیږی، وسپارل.
د امریکا نوی اداري تصمیم نیولی دی چه د ګوانتانامو زندانیان د هغوی هیوادونو ته وسپاری. احتمال لری چه افغانی زندانیان کابل اداری ته وسپارل شی.
اوسمهال افغانی جنګی اسیران د افغانستان په د ننه په کندهار او بګرام کی ساتل کیږی. د بهرنی میدیا له لاری داسی ګونګسی اوریدل کیږی چه امریکا د افغانستان په داخل کی پرته د رسمی او ځرګندو زندانونو نه ، پټ زندانونه هم لری چه یوازی د کابل استخباراتی اداری ته پته لګیږی.

د جنوری په ۲۰ نیټه د امریکا حکومت بدلیږی. انتقالی پړاو تل د سیاسی زندانیانو د پاره د خطر نه ډک پړاو ګڼلی شو : احتمال لری چه په سیاسی ډګر کی ماتی خوړلی واکمنی د پیښو په وړاندی غیر اصولی او غیر مسؤولانه چلند وکړی. په افغانستان کی لږ تر لږه دوه واره د انتقال په پړاو کی د زرګونو زندانیانو او جنګی اسیرانو د وژل کیدو شاهدان یو :

ــ د خلک جناح نه پرچم جناح ته د قدرت د انتقال په وخت کی په زرګونو زندانیان ووژل شول.

ــ کله چه اوسنی حکومت د طالبانو د امارت په ځای نصب شو، اټکل ۴۰۰۰ تنه جنګی اسیران د اوسنی حکومت سره مؤتلفو جنګی ډلو او بهرنیانو په وسیله په بیرحمانه ډول ووژل شول :

"لوماند دیپلوماتیك " نشریی چی په فرانسوی ژبه خپریږی ( د ۲۰۰۲ م کال د سپتمبر په ګڼه) کی د یو قوماندان (په مضمون کی د شاهدانو نومونه د امنیتی دلایلو له کبله محفوظ پاته شوی ) چی د طالبانو او ملیشو تر منځ یی وساطت کاوه د قول څخه وایی چه د طالبانو استازی ملافضل الله او ملا نوری شمال اتحاد ته وړاندیز وکړ چی طالبان حاضر دی خپلی وسلی ملګرو ملتونو یا نړیوالو ځواکونوته تسلیم کړی، په دی شرط چی دوی ته مناسب مصونیتی تضمینات برابر شی. دوستم ، عطا محمد ، محقق، امریکایان او انګریزان هلته حاضر وو. بالاخره تصمیم ونیول شو چی د کندز د مقاومت اسیران وروسته له دی چی بی وسلی کیږی خپلو سیمو ته واستول شی. د القاعدی غړی او نور بهرنیان دی ملګرو ملتونو ته وسپارل شی. طالبانو د همدغی موافقی له مخی ځانونه تسلیم کړل.

د امریکا دفاع وزیر"دونالد رمز فیلد" د طالبانو او ازبك ملیشو د هغه خبرواترو د بهیر په اړه چی له مخی یی طالبانو ځانونه تسلیم کړل ویلی وو :« د تأسف ځای به وی چی په افغانستان کی د القاعدی غړی، چیچنیان او نور له خبرو اترو څخه په کټی اخیستنی سره آزاد شی او په نتیجه کی په نورو هیوادونو کی د تروریستی اعمالو مرتکب وګرځی ».

دغه نامسؤولانه خبره په هغو شرایطو کی وشوه چی د شمال ائتلاف جګړه مار مخکی د غچ اخیستنی لپاره ذهنی چمتوالی درلود او د بهرنیانو شین چراغ ته یی انتظار ویسته:

۴۰۰۰ جنګی اسیران د لاقیدی او ماجراجویی ښکار شول.

په هر حال په دغه سیمه کی د بی ساری او ستر جنګی جنایت چه د ملګرو ملتونو تر بیرغ لاندی تر سره شوی کورنیو او بهرنیو سیاسی لوبغاړو تر اوسه پوری په قدرت کی دی. د جنګی اسیرانو نه غچ اخیستنی روحیه پخپل حال پاتی ده.

بهرنیو ځواکونو او د هغه مؤتلفو جګړه مارو افغانی ډلو تپلو ته د لیلی دشته د جنایت په اړه په ۷ کلونو کی آن یو سؤال هم ، د هیڅ یوه کورنی یا بهرنی مرجع له خوا ندی مطرح شوی. په وروستیو وختو کی د جنایت بیلګی په افغانستان کی د ملګرو ملتونو د حضور سره سره له منځه تلی دی.

دا احتمال شته چه په امریکا کی د واکمنی د انتقال په پړاو کی د اصولو سره دشمنی او د بی بازخواستی واکمنه روحیه یو ځل بیا د بیګناه افغانی جنګی اسیرانو د تلفاتو لامل وګرځی.

**کیدای شی چه د افغانستان د بشر د حقونو کمسیون ، د نړیوال سره صلیب په مرسته د ټولو هغو زندانیانو لیست چه د افغانستان په زندانونو کی شپی ورځی تیروی د میدیا له لاری خپور او کاپی یی د مقاومت کړیو ته وسپاری. مدیاتیک او مطبوعاتی پوښښ جنګی اسیرانو ته مصونیت ور په برخه کوی او د دی لامل ګرځی چه د بوش اداره په اصطلاح د « بی قانونه جګړه مارو » سره پخپل چلند کی د احتیاط نه کار واخلی.**

افغانان هیله لری چه افغانی جنګی اسیران د امریکا د نیو محافظه کارانو د وروستی برید څخه چه د انتقالی پړاو طبعی ګواښ ګڼل کیږی، وژغورل شی او د نوی ولسمشر (اوباما ) د نوی چلند چه د اصول او عدالت پر بنسټ باندی ولاړ وی مخ شی.

افغانان د امریکا د نوی ولسمشر نه غوښتنه کوی چه د افغانستان د کړکیچ په اړوند د بوش د جګړه ایز سیاست سره مقاطعه وکړی او د ملګرو ملتونو د منشور او نړیوالو قوانینو پر بنسټ باندی د جګړی د پای سیاسی لاری چاری ولټوی. « پای »

فرانسه

د جنوری ۱۱ ، ۲۰۰۹ م کال

دوکتور م ، ع ، روستار تره کی